محمد عارف رسولي
۲۰۱۸/۱۰/۱۱

# رغنده دریځ نیول او ستونزې یې

**سریزه:**
تولنیز او سیاسي دریځونه که د نړیوالو منل شوو علمي معیارونو او د ملي ګټو په چوکاټ کې رامنځته نشي، نه یوازې ګټه نه لري بلکه خواره ملګري سره بیلوي، د ټولني تر ټولو ویښ او فعال قشرد ګډ کار په ځای په ناندریو اخته او انرژي یې د جوړوونکو کارونو په ځای د یو بل په رد کې مصرفیږي.

په دې مقاله کې د رغنده دریځ نیولو په اصولو، ډولونو، اړتیاوو او ګټو یې خبرې کوو. همدارنګه، که دریځونه د ټاکلو اصولو او ملي ګټو له چوکاټ څخه بهیر وي، د تشو احساساتو، ځاني، ګوندي او سیاسي ګټو او کوم خاص ایدیولوژیکي نړۍ لید له مخې وي

**د پرمختللي نړۍ شنونکي او دریځونه یې:**

په نړۍ کې اړیکي نیول د هر ملک، دولت، سیاسي ګوندونو او شخصیتو لپاره مهم رول لري. شنونکي، لیکوالان

او ژورنالستان په ملي مسئلو کې د خپلي دندې، کاري سابقې، مسلکي پوهې، تخصص، تعلیم او نړۍ لید له مخې دریځ نیسي او دا شنونکي په څو ډوله وي.

لمړی، دله هغه کسان دي چي د دولت رسمي ویندویان وي او هڅه کوي چي دولتي اجندا او لاسته راوړني له خلکو سره په رسمي توګه شریک کړي، د رسنیو او عوامو سوالونو ته ځواب ووایي او د دولت واټن له عامو خلکو سره کم کړي. دوی ټریننګ ترلاسه کوي چي څنګه له هرې موکي ګټه واخلي، ننګوني په فرصتونو بدلي، د دولت لاسته راوړني خلکو ته وځلوي او دولت او عام خلک سره نږدې کړي. همدارنګه، په قدرت کې د شریکو ګوندونو او قوتونو نظریاتي پلویان هم هڅه کوي چي پخپلو تبلیغاتو کې تر یوی کچې د دولت پلوي وکړي، کمښتونه یې توجیه کړي او لاسته راوړني یې تر خلکو ورسوي. د دولت ویندویان او پلویان ټول باید دا ټول کارونه او خپله ستراتیژي داسي عیار کړي چي د معلوماتو شریکولو قانون او نور ملي قوانین ترپښو لاندې نه کړي، د تبلیغاتو په وخت شواهد او سندونه وړاندې کړي، له دروغو ویلو په کلکه ډډه وکړي، په حقایقو سترګې پټې نه کړي، تېروتني ومني او ټولي دولتي اداري باید د کمښتونو او تیروتنو په لیرې کولو کې یو بل ته لاس ورکړي.

دوهمه دله د حزب اختلاف رسمي ویندویان وي چي د ملي، ټولنیزو او سیاسي قضایاوو او د دولت په کړنو نظارت او انتقاد کوي، خو د دوی نیوکې هم باید د قانون په چوکاټ کې تر سره شي، که نیوکه کوي باید بېلګې وړاندې کړي او په مسلکي توګه باید نظر ورکړي.

روښانه ده چي دولت او حزب اختلاف له یو بل سره د سیاسي اقتدار د ساتلو او یا تر لاسه کولو لپاره سیالي کوي، هر یو ځان په حقه بولي او ملامتي په بل وراچوي او کله خو له زیاتو عامو خلکو لاره ورکه شي چي څوک په حقه دی. روښانه ده چي د یوه رېښتیني بې پرې، کارپوه او تحلیلګرقشر اړتیا ده چي له ازمویل شوو، انصاف لرونکو او په هیواد مینو وتلو ژورنالستانو، شنونکو، لیکوالانو، د دولت په خارجي سیاست کې فعالو بې پرې ډیپلوماتانو، د پوهنتون د ټولنیزو او سیاسی علومو استادانو، دیني عالمانو او نور پکې ګډون ولري چي د دولت او حزب اختلاف له ناندریو بهر سالم قضاوت وکړي او ملت له حقایقو خبر کړي. دوی د هیواد د ملي ګټو د ساتلو لپاره ټولو خواو لکه د مسئلو مخینې، ننګونو، ستونزو او لاسته راوړنو ټولو ته نظر کوي، په انصاف او د ملي ګټو په رڼا کې نظر ورکوي، بې پرې او متوازن تحلیل ملت ته وړاندې کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دوی که ځانته خپلواک تحلیلګران وايي نو ورته نه ښايي چې د دولت او یا حزب اختلاف ویندویان شي. که دا کار وشي بیا به خلک متوازن او بې پرې تحلیل له چا واوري، په چا به باور وکړي او څنګه به سم قضاوت وکړي. په کامیابو نظامونو کې قضا، وسلوال ځواکونه، دیپلوماتان، د پوهنتون استادان، رسنۍ، مسلکي ټولنې او اتحادیې، له نړیوالو موسسو سره کارکوونکي ځینې مدني ټولنې او مستقل شخصیتونه، ډېری وختونه بې پرې وي نو د پورته مسلکي او ازادو تحلیلګرانو قشر هم له همدې خلکو جوړ وي.

که څه هم د خپلې مفکورې په بنا د غوره نظام جوړول بې له سیاسي ګوندونو ممکن نه ده. خو کله کله ګوندي کتې له ملي ګټو سره په ټکر کې راځي، کله کله د سیاسي قانون بحران رامنځته شي، سیاسي ګوندونه له یو بل سره نه جوړېږي، نه شي توانېدای چې د ملک سیاسي ستونزې حل کړي نو د مستقلو کادرونو د رول وخت راشي، کله خو د انتقال په مرحله کې هم بې پرې خلکو ته اړتیا وي چې مسؤلیت واخلي، منازعات حل او لاره وباسي.

خو دا پورته راز دریځونه او خصوصا د بې پرې تحلیلګرانو شتون او د کار اغیزمنتوب یې په دې اړه لري چې څومره دولت، حزب اختلاف، وسلوال مخالفین او په ټولیزه توګه ټول ملت د دې پې پرې قشر د خبرو، شننو او قضاوت په اهمیت پوهېږي او اړتیا یې ویني، څومر په ملت او نظام کې د مدارا، حقیقت او رښتیا ویلو کلتور ریښې لري او څومره دولتي قوانین دا بې پرې شنونکی حمایه کوي. همدارنګه، په دې ګروپ هم اړه لري د ملي ګټو، دیني او ملي شعایرو په رڼا کې سم او بې پرې قضاوتونه کولای شي او څومره دوی د خپل ملت او ټولو سیاسي ډلو او ګوندونو او دولتي اداري اعتماد ترلاسه کولای شي.

**زموږ شنونکي او دریځونه یې**

په افغانستان کې د سیاسي تحلیلګرانو دریځونه د نورو ملکونو په څېر نه دي. زموږ د دولت، حزب اختلاف، بې پرې او مسلکي شنونکو تر منځ زیات توپیر نشته، ځینې ډلې هم په دولت او هم په حزب اختلاف کې قرار لري، دریځونه یې هم مبهم، مدام بدلېدونکي، اکثره د ملي ګټو ضد او له معامله ګریو ډک وي. په دولت کې زیاتې ډلې او شخصیتونه د نظام بریا ته هېڅ ژمنتیا نه لري، د یوه ټیم په توګه یوې اجندا ته کار نه کوي، له دولت څخه د ملاتړ په ځای ډېری وختونه دولت تخریبوي. حزب اختلاف په اصلي معنی نشته، زموږ ډېری سیاستوال کله مرور او کله پخلا وي. د دې لوی لامل دادی چې زیات خلک بېکاره او بېوزله دي، په کم معاش اړ کېږي چې د خپل وجدان په خلاف دریځ ونیسي او په کراره کراره خوند ورکړي.

څرنګه چې موږ د خپلو ملي ګټو او ملي تفکر کوم سم تعریف نه لرو، موږ تراوسه د خپلو راز راز ستونزو له کبله نه یو توانېدلي چې د خپلو ملي ننګونو، ملي ګټو او مسئلو د ارزونې، حل لارو او لمړیتوبونو د ټاکلو لپاره د کوم علمي معتبر چوکاټ او فکر په رامنځته کېدو بریالي شو. داسې وتلي شنونکي مو هم کم دي چې د سیاسي پېښو، د دولت او مخالفینو د کړنو یوه متوازنه ارزونه وړاندې کړي چې علمي او بې پرې بڼه ولري، تل ملي فکر ته وده ورکړي او د عوامو وړباندې باور راشي.

زموږ د کم شمېر ازادو تحلیلګرانو دریځونه د کوم ملي تفکر په ځای یوازې د تحلیل کوونکي د علمي کچې، مطالعې، اړونده کاري تجربې، د فکري او اقتصادي استقلال د کچې، د ژوند ارمان، د ارزونې موخې، رښتیا ته د ژمنتیا کچې، نړۍ لید او نورو په مختلفو درجو تابع وي او د ټولنې له عیني واقعیتونو سره زیات وختونه اړخ نه لګوي.

د افغانستان په شرایطو کې ټول پوهېږو چې په دې استخباراتي او نیابتي جګړو بهرني هېوادونه په تبلیغاتي ساحه کې هم لکه د استخباراتي شبکو په شان تبلیغاتي شبکې او کړۍ لري، د دوي برېخې شاید ځان ډېر د خلکو پلوي او انقلابي وښیي خو پېژندل یې زیات ستونزمن کار نه وي. نو زموږ په هېواد کې داسې نور شنونکي هم شته چې د بهرنیو سترو قوتونو او د سیمې د هېوادونو د سیالیو په لومو کې راګیر دي. د پردیو قوتونو له یو بل سره زموږ په خاوره کې په نرم تبلیغاتي ستراتېژیک جنګ کې ککړ دي او تمویلېږي، یا په ګرمو نیابتي جګړو د ټوپک په ځای قلم او رسنۍ کاروي، د ملي ګټو پروا نه لري، د دوی مرغه تل یوه پښه لري او یو ډول خبرې کوي. بله ډله یې بیا د سولې او ملي پخلاینې سره قسم خوړلي دښمنان دي ځکه د هغو قومي ټیکه دارانو او زورواکانو لخوا او یا هم د کوم بهرني هېواد لخوا ورته معاش ورکول کېږي چې زموږ په ګډوډیو کې یې ګټې وي. دا ټولې ډلې په حقیقت کې پردیپال دي او دپردو د ګټو لپاره کار کوي باید خلک یې وپېژني او خبرې او لیکنې یې تحریم کړي. اوس زموږ په تحلیلګرانو اړه لري چې ځانته کوم دریځ او لوری ټاکي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**د سرسري نښو په ځای په ریښه ییزو لاملونو تمرکز**

د یوه شنونکي د پوهې او تجربې کچه مرسته کوي چې حل لارې د پېښو، ننګونو، کمښتونو او ستونزو په نښو د تمرکز په ځای د هغو په ریښه ییزو لاملونو موندلو کې ولټوي. دا موکه د کم علم او کمو تجربو لرونکو تحلیلګرانو لپاره نه وي برابره. هغوی د مسئلو د بنسټیزو علتونو په ځای یوازې د ستونزو علامو ته ګوري. د مثال په توګه یوازې وتلي پرمختیایي کارپوهان پوهېږي چې په یوه ټولنه کې له ناروغیو د نجات لاره د پاکو اوبو، نظافت، محیطي حفظ الصحې، مغذي خوړو او وقایوي پوهې شتون دی نه هره ورځ شفاخانې ته منډې او زیاته دوا مصرفول.

همدارنګه، د ښو رهبرانو نشتون، د مشرانو کمزورتیاوې، د پردو لاسوهنې، ځانځانې، نفاق او خپلمنځي جګړې په ټولنه کې د سواد د نشتون، بېوزلیو، ناهیلیو، جهالت، له دیني او انساني ارزښتونو د بې خبری او نورو له کبله وي. دا علتونه او معلولونه یې یو په بل اغیزه کوي او علمي تحلیل دادی چې موږ اړیو او باید یوازې د ستونزو په نښو تمرکز ونه کړو بلکه د هغه له ریښه ییزو لاملونو ځان خبر کړو او غمه یې وخورو. د رهبرانو ناغېړي که د هغو کمښت رابښیي خو د قوي برنامه او پالیسي محوره ګوندونو نشتون، د غوره مالانو ستونزه، د ښو وړتیا لرونکو او ملي ګټو ته ژمنو کادرونو او وېښو خلکو کمښت، په ټولنیز او سیاسي چاپېریال کې د رهبری لپاره د ښو معیارونو او د ښو کادرونو قلت او نور هغه انساني، کلتوري، کمښتونه او نور هغه لاملونه دي چې ښه رهبران نه شي روزلی او نه یې په کړنو سالم نظارت کولای شي او په پای کې د رهبری بحران رامنځته کېږي. نو یوازې د مشرانو په ملامتولو بسنه ستونزې نه شي حل کولای.

**د هېواد د ننګونو د یوه اړخ په ځای هر اړخیز نظر:**

په انکشافي پوهنه، پالیسي او پروګرام جوړونه کې نن عامه او قبول شوی اصل دی چې د ټولنې د ستونزو یوازې یوه اړخ ته پام او نور له نظره غورځول بېوزلي له منځه نشي وړلای، ځکه د ټولنو ستونزې، راز راز او پېچلې اړخونه لري او حل لارې، پالیسی، پروګرامونه او پروژې هم باید څو اړخیزه، د مختلفو سکتورونو او علاقه لرونکو خواوو په ګډون باید جوړ، پلي او و ارزول شي، له لاسته راوړنو او تېروتنو باید د راتلونکو اصلاحاتو لپاره زده کړه وشي.

نو زموږ د ملت ټولنیز، سیاسي، اقتصادي، د حکومتولی، د قانون د پلي کولو، له فساد او زورواکانو سره د مبارزې، د سولې او نورې ستونزې هم خورا پېچلې او څو اړخیزې دي. د دې ستونزو ښننه او د حل لارو او لمړیتوبونو ټاکل هم ژور علمي، له هرډول منفي ارزونو او سیاسي موقف نیولو پرته باید ترسره شي.

نو زموږ هغه تحلیلګران چې د هېواد د ستونزو یوازې په یوه خوا افراطي تمرکز کوي او نور هېروي ستره تېروتنه کوي. د مثال په توګه، د هېواد په قضیه کې له فعالو بهرنیو لوبغاړو یوازې په یوه تمرکز کوي، نور ټول تل هېروي، داسې ښکاري چې بل چا ګومارلي وي، د پیسو په مقابل کې په نیابتي جګړو کې د ټوپک په ځای قلم، فکر او د غونډو تریبیون او رسنی کاروي. د دې په ځای چې د کوم ملي تفکر په رامنځته کېدو، د ټولو بهرنیانو په خپلو ګټو د تمرکز او ورڅخه د خلاصون په لوړ ملي ارمان او عملي کړنلارو علمي بحث وکړي، له نورو روڼ اندو فعالانو سره د ګډ کار فکر او عمل وکړي خپله وړه دنیا یې جوړه کړې وي او نور خلک ورته خاین ښکاري.

تاسو به لیدلي وي چې زموږ ځینې فعالان او شنونکي خپل ټول پام د ولسمشر کمښتونو ته اړوي، د ستونزو مخینې، لاملونو او نورو پېچلو خواوو ته هېڅ نظر نه کوي. دا سمه ده چې زموږ دوه سره حکومت او مشران یې زیاتې ستونزې لري، هره روځ نورې زېږوي خو دا ستونزې زیات پېچلي ټولنیز، سیاسي او تاریخي شالیدونه او عوامل لري او ټوله ملامتي یوازې په ولسمشر اچول موږ هېڅ ځای ته نه رسوي بلکه د حل لارو موندلو د ملي رغنده دیالوګ له مسیره مو کږوي.

زموږ بله ډله تحلیلګران بیا ټوله ملامته په وسلوالو مخالفینو اچوي. د وسلوال مخالفت مخینې؛ د هېواد، سیمې او نړۍ اغیزه لرونکو شرایطو؛ د وسلوالو په ګډون زموږ ټولو افغانانو په تېره د سیاسي مشرانو، د ډلو او نورو بې شمېره تېروتنو او نورو لاملونو ته نظر نه کوي چې وسلوال مخالفت ولې دومره اوږد شو، زموږ افغانانو ګناه څه وه، نورو په موږ څه وکړل، ولې یې وکړل او څه ته اوس پام کول پکار دي چې له ستونزو مو راوباسي.

آیا موږ د زړه له تله د هېواد د نجات، له جنګونو د خلاصون او سولې ته د رسېدو لپاره خپلې هڅې په رښتیا ارزولې دي، ایا زموږ سیاستوالو په مختلفو وختونو کې تر سولې خپل قدرت ته اهمیت نه دی ورکړی، او ایا په نظام کې ټول شریکان په هېواد کې سوله د ځان او خپلو ډلګیو په ګټه بولي؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که رښتیا ووایو د کرزي په لمړیو وختونو کي زیاتو ځایي زورواکانو د هېوادنیو ګټو په خلاف له مخالفینو سره له زیاتي بې انصافۍ کار واخیسته، موږ په لوی لاس خپلو قسم خوړلو ګاونډیو غلیمانو ته موکه په لاس ورکړه چي زموږ له تیروتنو ګټه پورته کړي او په هېواد کي د جنګ ډګر تود او وینه بهېدل روان وساتي ترڅو موږ له خپلو اوبو، طبیعي زېرمو او ستراتېژیک موقعیت ګټه وانخلو او د دوی سیالان نشو او په پای کي سیمه ییزې ستراتېژیکي ګټي دوی ته پاتي شي .

د کرزي صاحب د سولي پالیسي هم خورا مبهمه وه، د سولي راوستو افغاني عنعنوي دود او دستور ته یې اهمیت ورنه کړ، سوله ورنه پروژه یې، سیاسي او د ګټي وټي او معاملګرۍ لوبه جوړه شوه. هغه ریښتیني دیني عالمان، قومي جرګه ماران او روڼ اندي یې په کوته نه کړل، او نه یې د سولي مهم ملي ارمان ته وګومارل چي سوله یې د ژوند ارمان و او موثریت یې هم زیات شوني و.

د پورته او نورو لاملونو له کبله د جنګ په دوام، وینو تویېدو، وطن ورانېدو کي د وسلوالو په ګډون ټول افغانان خپلو راتلونکو نسلونو، هېواد، خپل تاریخ او خپل خدای ته په مختلفو درجو مسؤل یو او ټول به الله تعالی ته د محشر په ورځ ځواب وایو. نو د علمي، عقلاني او دیني نظره سمه او معقوله خبره نن دا ده چي ټول مسؤلیت ومنو، ټوله ملامتي په یوه خوا وانه چوو او له الهي مسؤلیت څخه غافل نشو.

د همدي پورته خبرو په رڼا کي که له دولت، حزب اختلاف او یا هم وسلوالو مخالفینو سره یو باید په خپلو دریځونو کي له دقت، مسؤلیت او حقایقو ویلو پلوي و اوسو.
د یوه ویښ، هوسا، یو موټی او پرمختللي ملت او هېواد په هیله
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ